

سپين غر
د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار)
Spinghar Institute of Higher Education (Nangarhar)

# عمومي طب پوهنځی

## General Medicine Faculty

د طبي لوړو زده کړو معياري اداره

A Standard Institution of Higher Education in Medical Sciences

## د عمومي طب پوهنځي لنډه تاريخچه او پېژندنه

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) عمومي طب پوهنځي په (۳۰/ثور/۱۳۸۸) نېټه د لوړو زده کړو وزارت د حکم پر اساس د فعاليت جواز ترلاسه کړ، چې تر دې دمه يې د معالجوي طب په برخه کې زرګونه تنه محصلين روزلي او ټولنې ته يې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

همدا راز د عمومي طب پوهنځي معالجوي طب ډيپارټمنټ فارغان د هېواد په داخل او له هېواد څخه بهر په بېلابېلو روغتونونو کې په په دندو او تخصصي زده کړو بوخت دي.

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه(ننګرهار) د عمومي طب پوهنځي د محصلينو د معياري روزنې او عملي کار لپاره سپين غر مومند پنځوس بستريز معالجوي روغتون لري، چې محصلينو ته د عملي زده کړو ترڅنګ د هېوادوالو لپاره با کيفيته روغتيايي خدمات وړاندې کوي.

عمومي طب پوهنځی د خپلو محصلينو د علمي کچې د لاپياوړتيا او لوړولو لپاره په تجربوي موادو او وسايلو مجهز لابراتوارونه، په انټرنيټي اسانتياو برابر کتابتون، کمپيوټرليب او په عصري ټکنالوژۍ سنبالې تدريسي خونې لري، همدارنګه فعال څېړنيز مرکز هم لري، چې د سيمې په کچه استادان او محصلين په کې څېړنې کوي.

عمومي طب پوهنځی خپلو اهدافو ته د رسېدلو لپاره پينځه کلن ستراتېژيک پلان لري، چې په منظم ډول تطبيق کيږي.

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې عمومي طب پوهنځي د معالجوي طب ډيپارټمنټ ټولې چارې د مسلکي او باتجربه کاري ټيم له لورې، د لوړو زده کړو وزارت او سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې(ننګرهار) د قوانينو مقرراتو، لوايحو او پالِسيو په رڼا کې، پر مخ وړل کيږي.

سپين غر د لوړو زده کـړو مؤسسـې عمومي طب پوهنځی غواړي، چې د عمومي طب په برخه کې د باکيفيته تدريس، زده کړه ايزو اسانتياو او څېړنو له لارې په ملي او سيمه ايزه کچه غوره پوهنځی وپېژندل شي.

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې عمومي طب پوهنځی د معياري تحصيلي نصاب، تدريسي روغتون، مجهزو لابراتوارونو، څېړنيز مرکز او باکيفيته تدريس له لارې د باتجربه او مسلکي استادانو پر مټ ټولنې ته داسې فارغان وړاندې کوي، چې د اړوند سکتور اړتياوې پوره کړای شي.

# د معالجوي طب ډیپارټمنټ لرلید، ماموریت او اهداف



## لرلید

د عمومي طب پوهنځي معالجوي طب ډیپارټمنت غواړي، چې د معالجوي طب په برخه کې د باکیفیته تدریس، زده کړیزو اسانتیاو او څېړنو له لارې د غوره ډیپارټمنټ په توګه وپېژندل شي.

## ماموریت

د عمومي طب پوهنځي معالجوي طب ډیپارټمنټ د معیاري تحصیلي نصاب، تدریسي روغتون، مجهزو لابراتوارونو ، څېړنیز مرکز او باکیفیته تدریس له لارې، د باتجربه او مسلکي استادانو پرمټ، ټولنې ته داسې فارغان وړاندې کوي چې د عامي روغتیا سکتور اړتیاوې پوره کړای شي.

## اهداف

- د معالجې په برخه کې د محصلینو علمي برنامو او څېړنیزو فعالیتونو پراختیا.
- د محصلینو د معیاري تدریس لپاره د اسانتیاو رامنځته کول، ساتنه او پراختیا.
- د ډیپارټمنټ د تحصیلي نصاب تطبیق، څارنه او ارزونه.
- د محصلینو د لابراتواري او روغتوني عملي کارونو لپاره د اسانتیاو برابرول، ساتنه او پراختیا.
- د ډیپارټمنټ اړوند دکیفیت لوړونې معیارونو تطبیق.
- د ډیپارټمنټ اړوند کارکونکو، استادانو او محصلینو د ظرفیت لوړونې برنامو ایجاد، ساتنه او پراختیا.
- په اسلامي روحیه، طبي اخلاقو او ملي ارزښتونو ته ژمن علمي کادرونو روزنه.
- د معالجوي طب ډیپارټمنټ فارغ باید د ناروغۍ د تشخیص لپاره د معایناتو د توصیې او تحلیل وړتیا ترڅنګ د عملي درملنې وړتیا ولري.
- د معالجوي طب ډیپارټمنټ فارغ باید د روغتیایي سېستم د شته ستونزو د تحلیل او د هغوی د حل وړتیا ولري.
- د معالجوي طب ډیپارټمنټ فارغ باید په طبابت کې له استعمالېدونکې عصري ټکنالوژۍ سره اشنا او د هغې د مؤثر استعمال وړتیا ولري.

**د طبي لوړو زده کړو معیاري اداره**

**A Standard Institution of Higher Education in Medical Sciences**



# اسانتیاوې